**بسم الله الرحمن الرحيم**

## ژوند، پرمختګ او عزت د دین له فهم پرته امکان نه لري

**(ژباړه)**

ابن حجر عسقلاني د صحیح البخاري په شرحه، فتح الباري کې په کم بدلون سره په «**من یرد الله به خیرا یفقهه في الدین**» باب کې راوړي، چې معاویه رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې فرمایي:

**«من یُرِدِ الله به خیرا یُفَقِّهْهُ في الدین»**

***ژباړه:*** *الله تعالی چې هر چا ته د خیر اراده وکړي، هغه په دین کې فقیه کوي.*

د فقهې علم زده کول او د دین فهم هغه ستر موضوعات دي، چې اسلام ټل خلک ورته دعوت او هڅوي؛ ځکه د فقهې علم په ترلاسه کولو کې لوی خیر دی. ولې به داسې نه وي؟ په داسې حال کې چې دغه دین د ژوند د یوه نظام په توګه نازل شوی؛ هغه نظام چې د انساني ژوند د ټولنیز، اقتصادي، سیاسي، قضایي، ښوونیز او ان ټولو اړخونو درملنه کوي. ولې به داسې نه وي؟ په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی د اسلام دین په هغو احکامو سره چې له دغه دین څخه یې سرچینه اخیستې او په هغو افکارو سره چې د همدغه دین پر اساس رامنځته شوي، د هر وخت او ځای مطابق جوړ کړی دی.

هر څومره چې امت خپل دین ته ژمن وي او له احکامو او قوانینو څخه یې خبر وي، پرمختګ او تقوایي زیاتېږي، عظمت او قدرت یې ډېرېږي. دغه پېښې د امت د تاریخ په بېلابېلو دورو کې تکرار شوې دي. په هغو پېړیو کې چې اسلام به په بشپړه توګه پلی کېده، مسلمانانو او نامسلمانانو به د یو او بل تر څنګ په خوښۍ او ارامۍ ژوند کاوه؛ خو کله چې امت د اسلام له پلي کېدو څخه لاس واخیست او کافر غرب ته یې اجازه ورکړه چې دوی ته احکام وټاکي، افکار ورته تعریف کړي، اساسي قانون ورته جوړ کړي او بیرغ او حکام ورته وټاکي، نو وضعیت یې د یوه متحرک مړي په څېر شو، چې یوازې د خوراک او څښاک لپاره ژوند کوي، له روح او روحانیت پرته خپل ژوند تېروي او تل له ماتې او بدبختۍ سره مخ وي. دغه وضعیت د هغه کار پایله ده، چې امت د خپل ځان په حق کې کړی دی؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

**﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا...﴾ [طه: ۱۲۴]**

***ژباړه:*** *او هر څوک چې زما له یاد څخه مخ واړوي، ژوند به یې تنګ شي ...*

**نو اې مسلمانانو!** د دغه امت د عزت او دبدبې د بېرته راوستلو لپاره - چې یوازې د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت په تاسیس سره امکان لري- اقدام وکړئ!

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت راکړه چې په مرسته یې د مسلمانانو ستونزې او سختۍ حل او له منځه لاړې شي او مصیبتونه او کړاوونه یې ختم شي. اې ربه! ځمکه د خپل کریم نور په واسطه رڼا کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړن: صهیب منصور**